د ژوند او چاپیریال د علمونو پوهنځی

Department of Geography

Amory Building
Rennes Drive
Exeter, EX4 4RJ

e asyfair@exeter.ac.uk
w www.asyfair.com

# تحقیقي مرکې لپاره د معلوماتو پاڼه

دا څېړنه په بیلابیلو اروپایي هیوادونو کې د پناهندګۍ د محکمو تحقیق کوي چې وګوري ایا د پناهندګۍ د فیصلې پروسې په ټوله اروپا کې یو شان دي که نه. دا یوه خپلواکه څېړنه ده چې بودیجه یې د اروپا د څېړنیزې شورا لخوا (ERC)، د پروژې د حوالې لمبر StG-2015_677917) ورکول کېږي، او مشري یې د پروفیسر Nick Gill لخوا کېږي څوک چې په Exeter پوهنتون کې په انساني جغرافیه کې پوهندوی دی. مغه څېړنکاران چې په دې پروژه کې دخیل دي په اروپا کې د هیڅ کومې دولتي اداري یا د رسنیو د سازمان برخه نه دي. ټول تحقیقي فعالیتونه د مغو اخلاقي لارښوونو له مخې ترسره کېږي چې د ERC او اکسټر پوهنتون لخوا ټاکل شوي دي. دا څېړنه تر 2021 کال پورې دوام کوي او د پناهندګۍ د اپیلونو استماعات او داسې خلکو سره مرکې پکې شاملې دي کوم چې د اپیلونو په سیستم کې دخیل وي لکه اپیل کوونکي او وکیلان.

## تحقیقي مرکه

د مرکې پر مهال به له تاسو پوښتنه وشي چې د پناهندګۍ د اپیل د پروسې په اړه خپلې تجربې او لیدلوري شریک کړئ. مرکه به تقریباً 45 دقیقې ادامه وکړي او وروسته یې د متن لیکلو لپاره به په غږیز ډول ثبتول کېږي.

## ولې له تاسو د یوې مرکې غوښتنه شوې ده؟

مونږ د داسې خلکو نه غوښتنه کوو چې په اروپا کې د پناهندګۍ د اپیل د پروسې څخه تېر شوي وي چې مونږ ته دغې پروسه کې د خپلو تجربو په اړه ووایي. هر هغه څوک چې د پناهندګۍ د اپیل د سیستم څخه تېر شوی وي په دې څېړنه کې یې ګډون کولو ته هرکلی ویل کېږي. دا په بشپړه توګه داوطلب ده. په دې څېړنه کې د ګډون کولو مطلق هیڅ ډول مکلفیت نشته. د Exeter پوهنتون، کوم چې ددې څېړنې کوربه توب کوي، به د هیچ هغه چا چې په دې کې ګډون کول نه غواړي سره له هیڅ تبعیضه کار وانخلي.

## که تاسو د مرکې ورکولو پرېکړه وکړئ نو څه به کېږي؟

که تاسو د مرکې ورکولو سره موافقه وکړئ نو هغه باید تقریباً 45 دقیقې ادامه وکړي. مونږ به داسې پوښتنې درنه وکړو لکه، د بېلګې په توګه، 'د شالید معلومات'؛ 'استماع پورې تېره شوې موده'؛ 'په خپله استماع' او 'له استماع وروسته څه وشول'. مونږ ښایي په دې اړه درنه پوښتنه وکړو چې تاسو د پناهندګۍ د اپیل څخه مخکې او وروسته څان څنګه احساساوه. مونږ ښایي په دې اړه درنه پوښتنه وکړو چې د اپیل څومره برخه باندې تاسو پوه شوئ او دا چې ایا ستاسو په فکر دا شفاف و. مونږ ښایي له تاسو داسې محرمانه او شخصي پوښتنې وکړو کومې چې ستاسو د دین او جنسي میلان سره اړوندې وي.

## کوم معلومات چې زه ورکړم هغوی سره څه کېږي؟

زمونږ د تحقیقي ټیم یو غړی مسوولیت لري چې مرکې واوري او هغه څه چې ویل کېږي په ډیجیټال غږ ثبتوونکي باندې ثبت کړي. دغه مرکې به بیا د ASYFAIR د تحقیقي ټیم د یو غړي لخوا د متن په توګه لیکل کېږي او په امنیتي توګه به انتقالېږي او ترتیبېږي. دا معلومات به بیا تحلیل کېږي چې وکتل شي ایا په هغو طریقو کې نمونې شته کومې چې د پناهندګۍ د اپیل کوونکو لخوا تجربه کېږي او د پناهندګۍ اپیلونو ته ګوري.

دا بې نومه کړی شوي معلومات به ددي لپاره کارول کېږي چي اکاديميک تحقيق وليکل شي کوم چي به په اکاديميکو مجلو کي نشرېږي او په اکاديميکو کنفرانسونو کي به پرې بحث کېږي. برسېره پر دی، څنګه چي د څېړني هدف دی چي د پناهندګی فيصله بهتره کړي، مونږ ښايي د بې نومه شوو معلوماتو څخه داسي استفاده وکړو چي پاليسي جوړوونکو، عام ولس او رسنيو ته يې وړاندي کړو. دا معلومات به د پناهندګی پرېکړه کوونکو ته نه رسول کېږي او دا به ستاسو د پناهندګی په دعوه او يا وروسته نورو دعوو او قضيو هيڅ کوم تاثير ونلري. مونږ به دا خبره يقيني کړو چي هر څه چي مونږ يې خپروو او نشروو تاسو ترې ونه پېژندل شئ.

تاسو د خپلو معلوماتو او د څېړني د نتايجو په باره کي مونږ سره په تماس کي پاتي کېدلی شئ. که مونږ ستاسو معلوماتو د اکاديميک کار نه غير نورو اهدافو لپاره استعمالول غواړو، د بېلګي په توګه تجارتي اهدافو لپاره، نو مونږ به لومړی تاسو سره تماس ونيسو چي اجازه درنه وغواړو.

مونږ ښايي د معلوماتو يوه په بشپړه توګه بې نومه شوې بڼه د يو خوندي شوي ډاټا ارشيف له لاري موجوده کړو تر څو په راتلونکو تحقيقي پروژو کي ترې بيا استفاده وشي. دا ډاټا به بې نومه کړی شوې وي او هيڅ داسي معلومات به پکي شامل نه وي چي تاسو د نورو لخوا وپېژندل شئ. د ګډون کوونکو د تماس معلومات به مونږ ستاسو د مرکي څخه په يوه جلا دوسيه کي د يو جلا شفر سره وساتو، او د مرکي به يوازې ليکلې بڼه وساتو. په دې خوندي ارشيف کي به بې نومه کړی شوي تحقيقي معلومات د لسو کلونو لپاره ساتل کېږي څکه دغه موده د اکسټر پوهنتون لخوا لازم شرط دی. له دې وروسته به په خوندي توګه له مينځه يوړل شي.

## ايا کوم خطرات شته؟

مونږ فکر نه کوو چي ګوندې مونږ ته د مرکي راکولو سره به کوم د پام وړ خطر مربوط وي. کومې پوښتني چي به مونږ تاسو نه کوو دا مونږ د يوه ډله خلکو نه کړي دي، او هغوی مونږ ته وويل چي دا ډېرې سيده ساده او مناسبې پوښتني دي. د ASYFAIR د څېړنيز ټيم هدف د يو ارام او دوستانه ماحول پيدا کول دي. خو، مهرباني وکړئ دا خبره ياد وساتئ چي که چيرې تاسو د داسي غير قانوني فعاليت چي نورو ته نقصان رسوي په اړه معلومات ښکاره کړئ نو مونږ ښايي مکلفيت ولرو چي هغه اړوندو قانوني چارواکو ته ښکاره کړو. مرکه کوونکی تاسو ته د مرکي کولو نه وړاندي ددې په اړه لا زيات معلومات درکولی شي.

## ايا په څېړنه کي ګډون کول کوم منافع لري؟

په دې څېړنه کي ګډون کول ستاسو لپاره نېغ په نېغه لنډ مهاله منافع نلري. خو دا څېړنه ښايي د پناه غوښتونکو د ژوند په بهترولو کي مرسته وکړي څکه چي دې خبرې ته به توجو راواړاوي چي د پناهندګی د اپيلونو په سيستم کي څه بهترېدلی شي.

## که تاسو خپل ذهن ته تغير ورکول وغواړئ نو څه کېږي؟

که تاسو د مرکي ورکولو پرېکړه وکړئ نو وروسته خپل ذهن ته تغير ورکولی شئ او هر وخت کولی شئ هغه معلومات چي ورکړي مو دي بېرته وباسئ. په تاسو لازمه نده چي دليل او تشريح ورکړئ او مونږ به ستاسو د پرېکړې احترام کوو. د بس کولو مطلق هيڅ کومه جريمه يا جزا نشته. په همدغه توګه که چيرته څيني داسي پوښتني وي چي تاسو د هغوی ځوابونه ورکول نه غواړئ، نو هغه هم صحيح ده. بس مونږ ته وواياست چي تاسو د دغي پوښتني ځواب ورکول نه غواړئ.

که تاسو ځان ايستل غواړئ، نو تاسو مونږ ته د مرکي پر مهال او يا وروسته په پای کي خپله ويلی شئ، او يا تاسو د مرکي نه وروسته مونږ سره په مختلفو طريقو تماس نيولی شئ: څېړنکارانو ته د ايميل کولو له لارې (د پروژې ايميل ادرس د asyfair@exeter.ac.uk)، د څېړنکارانو مرکزي اداره کي د اخلاقياتو افسر ته په ايميل کولو (g.m.seymour@exeter.ac.uk)، د پوسټ له لارې د پروفيسر Nick Gill، څوک چي ددې پروژې مشر څېړنکار دی، پوستي ادرس لاندې ورکړل شوی دی)، او يا مونږ ته په تليفون کولو سره (د تليفون شمېرې لاندی دي).

## مونږ ستاسو د محرميت حفاظت څنګه کوو

ټول هغه معلومات چي مونږ يې له تاسو ترلاسه کوو په سختۍ سره محرمانه دي، او ټول هغه څېړنکاران چي په دې

ځېړنه کار کوي به ستاسو د محرمیت احترام کوي. ځینې هغه معلومات چې مونږ یې تاسو نه د مرکې په اوږدو کې راغونډوو ښایي حساس معلومات وي نو له دې امله به مونږ هغه ذخیره کوو او په احتیاط سره به پرې کار کوو. مونږ به ستاسو د تماس جزییات، ستاسو د نوم په ګډون، د هغو معلوماتو څخه جلا ساتو چې مونږ یې د تحقیق لیکلو لپاره کاروو. مونږ به دا خبره یقیني کړو چې زمونږ په خپور شوي تحقیق کې او یا په هغه ډاټا کې چې په راتلونکي کې نورو ځېړنکارانو لپاره ایښودل کېږي داسې کوم معلومات موجود نه وي چې ددې سبب شي چې چاته دا خبره معلومه شي چې تاسو څوک یاست.

یا په هغه ډاټا کې چې په راتلونکي کې نورو ځېړنکارانو لپاره ایښودل کېږي چې څوک ترې دا نتیجه واخیستلی شي چې تاسو څوک یاست.

مونږ به ستاسو شخصي معلومات یوازې په هغو طریقو کاروو چې په دې معلوماتو پاڼه کې تشریح شوي دي، ستاسو له رضایت سره او یوازې د عامه ګټو د تحقیق لپاره، د ډاټا د تحفظ د موجودې قانونسازۍ سره سم. مونږ به ستاسو شخصي معلومات د ASYFAIR د تحیقیق کوونکي ټیم څخه بهر هیچا سره شریک نه کړو، او مونږ به ستاسو شخصي معلومات د اروپا د اقتصادي منطقې څخه بهر کوم هیواد ته انتقال نه کړو تر څو چې دغه هیواد د معلوماتو د حفاظت مناسبه درجه یقیني کړې نه وي.

## نور معلومات

ددې پروژې کوربه د Exeter پوهنتون دی او بودیجه د اروپايي ځېړنیزې شورا (ERC) لخوا د اروپايي اتحادیې د افق 2020 د تحقیق او نوښت د پروګرام لاندې ترلاسه کوي چې د مرستې د موافقې لمبر یې دا د StG-2015_677917.

## د تماس جزییات

هر هغه پوښتنې چې تاسو يې ددې څېړنې په اړه لرئ مونږ درته د هغوی په ځوابونو ویلو خوښېږو. تاسو پروفیسر Nick Gill یا د تحقیق د ټیم د بل هر تن سره د تماس د لاندې جزییاتو په کارولو سره تماس نیولی شئ.

د پروژې په اړه معلومات زمونږ په ویبسایټ هم موندل کېدلی شي: www.asyfair.com.


**د پروژې مشر:**

**پروفیسر Nick Gill**

د جغرافیې مکتب
Amory Building
Rennes Drive
د Exeter پوهنتون
Exeter, EX4 4RJ
انګلستان

ایمیل: asyfair@exeter.ac.uk

تلیفون: +44 (0) 1392 723333

ویبسایټ: www.asyfair.com

**څېړنکاران:**

**ډاکټر Nicole Hoellerer**
**مشر څېړنکار (آلمان)**

**ډاکټر Jessica Hambly**
**مشره څېړنکاره (فرانسه)**

**ډاکټر Daniel Fisher**
**څېړنیز همکار (انګلستان)**

**Exeter پوهنتون کې د تحقیق د اخلاقیاتو او حکومتدارۍ منیجر:**

Gail Seymour

ایمیل: g.m.seymour@exeter.ac.uk